# Pakhtunkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه




## ۱۳مه ګڼه ۱۹۹۴ کال


## Jahrg./vol:1994/ 8 nummer/ no: 13


## PASHTOONKHWA / PASCHTUNCHWA

**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN**
**PARTEI DER PASCHTUNEN**
**Paschtunchwa/Afghanistan-**

# ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP) - Pashtunkhwa/Afghanistan

www.pashtoonkhwa.com


pashtoonkhwa@gmail.com

psdp@gmx.net

## V.S.I.P / Responsible for contents

DR. KABIR STORI

RICHARDSTR. 5

50389 Wesseling - Germany

Tel.: 0049 2236 83463


## Editorial Board /Redaktion د خپرونې جرګه:

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علي خان محسود (مسيد) |
| Hedayat Bangash | هدايت الله خان بنګش |
| Mabariz Zapi | خان محمد مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزيز سرشار |
| Nasir Stori | نصير ستوری اپسپزی |
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړۍ |




سرليکونه او ليکوال مخ


| | | |
|---|---|---|
| د پښتنو پووالی د ورځی په ویاړ د محمد شیرین ګرد پوال د وینا ژباړه | | ۱ |
| میړنی اولس | اسدالله بختیار | ٤ |
| ډیموکراسی او زمونږ هیواد | عمرمحمد عثمان | ٦ |
| نوی زړی | خبریال هدایت الله بنګش | ۹ |
| مشر او لارښود | ډوکتور درویزه اخکزی | ۱۳ |
| پخوانی مینه | ستوری | ۱٥ |
| د مینی رقیب ته | عزیز سرشار | ۱٦ |
| غزل | محمداجان یار | ۱۷ |
| اولس وژنه که اولس پالنه د ګروال غلام قادر یار | | ۱۸ |
| د پښتنو پووالی د دښمن ماتی عبدالنصیر ستوری | | ۲۰ |
| د پښتنی تاریخ ویاړ | | ۲۳ |


خپرونکی: د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند پښتونخوا/افغانستان

Herausgeber: Sozialdemokratische Partei der Paschtunen Paschtoonchwa / Afghanistan

Publisher: Pashtoons Social Democratic Party Pashtoonkhwa / Afghanistan

ځمه وار
V. S. I. P.
RESPONSIBLE FOR CONTENTS
ډوکتور کبیر ستوری
DR. KABIR STORI
RICHARD-STR. 5
50389 WESSELING
GERMANY
Tel.: (02236) 83463

| Redaktion Editors Board. | د خپرونی جرګه: |
|---|---|
| Ali Khan Masood | علیخان محسود |
| Hidayat Bangash | هدایت بنګش |
| Mabariz Safi | مبارز صافی |
| Aziz Sarshar | عزیز سرشار |
| Nasir Stori | نصیر ستوری |
| Gulgutai Kunarai | ګل غوټی کونړی |

# د پښتنو د یووالي د ورځې په ویاړ د

## محمد شیرین کردیوال د وینا ټوټه



ښاغلو محترمو درنو میلمنو!

عزتمندو مینه والو خویندو او ورونو.

د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند په نمایندګۍ چې د نني ماښام جوړونکی دی تاسو ټولو ته د زړه له کومې ښه راغلاست وایم امید دی چې د نني ماښامي شیبې به د دوستۍ اړیکو د ټینګښت په اصولو سرمتیرې کړو.

د اولسونو په تاریخ کښې ډېرې نادودې منځ ته راغلي دي د مثال په توګه تش په نامه د ډیورنډ کرښه چې پوره سل کاله پخوا د نومبر په دولسمه نیټه د هغه وخت د انګریزي استعماري طاقت او افغاني امیرانو تر منځ منځ ته راغلې ده د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند د پښتنو د اولسي مسئلو او ملي علایقو د نماینده په توګه د دغې نیټې په نښتون کښې یو ځل بیا په پوره ټینګار دا په ګوته کوي چې د دغې خیالي کرښې د را منځ ته کېدو د ګړۍ څخه راپدې خوا تر اوسه پورې هیڅکله د پښتون اولس له خوا منل شوې او نه د کوم افغاني واکمنۍ له خوا په رسمیت پېژندل شوې ده دغه کرښه د اولسونو حقوقو په ضد یوه کرښه ده او د اولسونو د خپل سرنوشت ټاکلو د حق پر ضد



یوه کرښه ده مونږ نن ورته په جار د اعلانوو چې دغه کرښه چې د پښتون قوم په سینه راښکل شوې نه شته.

درنو عزیزانو:

د نړۍ د نوي جوړښت په وضعه کښې یوه د غور وړ خبره دا ده چې د نړۍ اولسونو ته پکې د پخوانیو وختونو په پرتله ډېر امکان برابر شوی دی. د دې لپاره چې خپلې قامي غوښتنې نړیوالو ته اعلان کړي او د خپلې قامي ازادۍ په لاره کښې په ډاګه هلې ځلې وکړي. د همدغه حقیقت په رڼا کښې مونږ د نړۍ اولسونو څخه د دې مرستې هیله کوو چې د تاریخي سوابقو په بنیاد ولاړ د پښتنو د خپل سرنوشت ټاکلو حق تر ګوتو کولو په لیاره کښې د هر ډول مرستې او ملاتړ څخه ډډه ونه کړي تر څو د ډیورنډ کرښې په دواړو خواو کښې پښتانه بیرته سره یو شي.

د یوه ستر قدرت په مقابل کښې د افغان ولس د ازادۍ جنګ او اوس په افغانستان کښې روانه کورنۍ جګړه او د دې جګړو راتلونکي درانه عواقب هم په دې نښتون هرومرو د یادونې وړ دي. هغه غم او ستونزې چې افغان اولس تر اوسه وګاللې د هغې سرې هیڅ بیان نه شي کولی. د هیواد څخه لیرې په پردیسۍ کښې ټول افغانان د هیواد او اولس د خوړا غمجن او دردوونکي حالت په هکله بې برخې نه دي. د وجود د یو غړي د درد سره ټول غړي دردیږي ځکه نو مونږ



په افغانستان کښې د ټولو هغو ډلو مشرانو څخه چې د واک په سر په دښمنۍ کښې لاس په ګریوان دي دا هیله کوو چې نور د دې دښمنۍ څخه لاس واخلي او د افغانستان د ملي علایقو د خوندي ساتلو په هیواد کښې د مرګ او ژوبلې پر ځای د سولې د ټینګښت په خاطر د یو مشترک دریځ له مخې هلې ځلې سرته وکړي.

د ګاونډیو هیوادونو څخه هیله کوو چې په افغانستان کښې د شخړو د راپارولو او د افغانستان په کورنیو چارو کښې ګوتو وهلو څخه نور لاس واخلي ځکه نه دغه د دوی اعمال به په راتلونکي کښې د دوی لپاره داسې درانه عواقب ولري چې د دوی به بیا په هغو پولو کښې پاتې شي کومې چې احمد شاه بابا دوی ته ټاکلې وې.

په پای کښې د ملګرو ملتونو د موسسې، د نړۍ د سولې غوښتونکو هیوادونو، د ګوندونو او سازمانونو څخه هیله کوو چې په افغانستان کښې د یو ګوندیز پارلماني سیستم د منځ ته راتګ او ازادو ټاکنو د سرته رسولو په لاره کښې د افغانستان د دیموکراټیکو ځواکونو سره ننګه او ملاتړ وکړي.

> څه په لوږه څه په تنده څه په تیغ مړي
> ورک شه ورک شه د پښتون خواره نصیبه
>
> ګل پاچا الفت



اسدالله بختیار

# میړنی اولس



تاریخ شاهد دی چې د افغانستان خاوره د هغه سرتېرو زړورو ننګیالو خاوره ده چې د هر استعماري یرغلګر او پراختیا غوښتونکو قدرت پښتې پکښې ماتې شوې دي او خپلې شومې ارزوګانې ئې د ځان سره خاورو ته وړې دي. کله چې افغان اولس انګریزانو ته ماتې ورکړه نو د انګریزانو امپراطوري ختمه شوه همدغسې شورویانو ته د ماتې ورکولو وروسته د روسانو امپراطوري هم ختمه شوه. د تاریخي واقعیتونو او د افغان ولس د نه ماتیدونکې او نه ستړي کیدونکې ارادې په پام کښې نیولو سره ویلای شو چې افغان ملت به هیڅکله د پردیو باداری ته غاړه کښې نه ږدي او هیڅ پردی قدرت او د پردي قدرت ګوډاګیان به د افغانانو د ازادۍ غوښتنې اراده ماته نه کړي.

دلته اوس باید دا خبره په ډانګ پیلي وویل شي چې افغان ولس د څوارلسو کلونو په موده کښې داسې تجربې لاس ته راوړي دي چې د پردیو ملتونو د

سلګونو کلونو د پښتنو په لړ کښې لاس ته نه دی راوړی، د همدغه تجربو په رڼا کښې دافغانستان په هیواد مینوپراخو پرګنو یوه داسی لاره غوره کړه چې د هر راز مطلقیت، مرکزیت او افراطیت څخه لیری ده او دافغانستان د ټولو خلکو له دینی پاکی عقیدی ټولنیزو ارزښتونو، دود، دستور او ویاړلی کلتور او ثقافت سره سمون خوری. دا لاره نه یوازی د سوکالی او سمسورتیا زیری ورکوی بلکه د خلکو معنوی او ملی اړتیاوی هم تر سره کوی دغه ملی ازادی غوښتونکی غورځنګ د پښتنو ټولنیزاولسولیز ګوند په بڼه کښې نړیوالو ته ځان وروپیژندلی دی دا ګوند په بشپړه توګه دافغانستان په زړورو او هیواد پالونکو خلکو باندی اتکا لری او باور لری چې اساسی او غوښ قدرت یوازی او یوازی په افغان پراخو پرګنو کښې پروت دی افغان ولس د دی جوګه دی چې خپل کور پخپله سنبال کړی او خپلی کورنی چاری پخپله سمی کړی.

> د پښتنو یو والی تاریخی ضرورت دی
> پدی لاره کښې جدوجهد پکار دی
>
> خان لالا محمد افضل خان



# ډیموکراسی او زمونږ هیواد

عمر محمد الله غمان

دافغانستان د معاصر تاریخ له مطالعی نه حتما دا درک کیږی چې زمونږ هیواد د اجتماعی سیاسی او نظامی حوادثو له نظره نه یوازی په منطقه بلکه په نړی کښې د توجو وړ پاڼی او فصلونه لری.



د دی هیواد خلکو او زعامت وشو کولای د افشاریانو لوی امپراطوری ته په خپل هیواد کښې ماته ورکړه او د هغه وخت زعامت وشو کولای چې د هیواد د ټولو خلکو او پرګنو ملاتړ تر لاسه کړی او د هیواد طبیعی جغرافیائی سرحدات تثبیت او د دی هیواد اوسنی نوم چې افغانستان دی په سرلوړی توګه د تاریخ په پاڼو کښې تثبیت کړی. د دی وخت زعامت یعنی لوی احمد شاه بابا وشو کولای چې په هیواد کښې ملی اساسات چې د خلکو اصلی او طبیعی میراث وو له بیګانه ګانو نه واخلی او د دی ملت خلکو ته ئې چې اصلی وارثان وو وسپاری د هغه وخت سیاسی تشکیلات تو کاملا" ملی او د ولتی خیره درلوده په هغه وخت کښې دا امیدواری وه چې افغانان به د منطق هیوادونو ته د ډیموکراسی یو ښکاره مثال شی مګر بدبختانه د اجانبو مداخلو او د ده اولادی ونه شو کولای چې د لوی احمد شاه بابا او د هغه وخت د نورو مشرانو کړنلاره تعقیب کړی ورو ورو ئې د هیواد د ښمنو خلکو د نفوذ لپاره زمینه مساعده کړه د هیواد سیاسی وحدت ته ئې د یره صدمه ورسوله هغه ملی اساسات چې



په خلکوئی د قانون په بڼه غوره کړی وه د خارجی د ښمنانو د نفوذ په نتیجه کښې له لاسه ورکړل، خود خواهی شخصیت پرستی، او د شخصی تمایلاتو تابعیت خلک له بدبختی سره مخامخ کړل، حتی د بی ارادی زعامت په نتیجه کښې زمونږ هیواد د هغه وخت د ښکیلاکګرو هیوادونو د سیاسی او نظامی رقابت میدان شو.

زمونږ خلکو د سرونو په قربانی د وطن فرض ادا کړ.
یعنی هیواد ئې ازاد کړ، د شمن ئې وشاړه، د وطن ولیدلی شمله ئې د زلمیو د وینو په قیمت لوړه کړه، اروپائی مغرور طاقت ئې مات کړ پداسی حال کښې چې نه ئې توپ درلود او نه طیاره یوځه ئې درلودل همت، غیرت، او ملی زعامت داسی زعامت چې نه ورسره د شیخانو لښکری وی او نه ورسره د اجانبو قوماندانان، بلکه خلکو خپل مشران له خپل منځ نه راپورته کړل او هغه ئې غبرګول او لید ران ئې تری جوړ کړل مګر بیا هم د قدرت وږیو زمونږ د ملی لښکرو سره قربانی ئې غصب کړه بیائی د امیراو سلطان ترکلمی لاندی فردی د یکتاتوری د ډیموکراسی پرځای ورو ورو ټینګه کړه.

د وطن خلکو د یو نیم میلیون شاهزلمو په قربانی نه یوازی سور پوځ مات کړ بلکه هغه هیوادونو ته چې اوس د مرستو او افغانانو ته د ځای ورکولو ادعا لری نجات ورکړ.

خلکو فکرکاوه چې اوس به د دوی ملی قیام د میرویس نیکه اساسات پیاده کړی مګر پیاده نه شو وضع ئې د یته ور سوله چې پخوانی کفن کشرته ئې د وعاګوی پیدا کړل. بناء د مطالبو د دی فهرست نه معلومیږی چې خلک همیش د ډیموکراسی د راوستلو لپاره قربانی شوی مګر نامراده زعامت همیش د ځان غم کړی بناء د هیواد اوسنی حالات ایجابوی چې د پخوانی تاریخ نه په استفادی د



وطن پوهان، سیاستمداران او روښنفکران سره په یوه واحده او ملی جبهه کښې په ګران افغانستان کښې د ملی اساساتو په بنا داسی یو پراخ بنسته سیاسی تشکیل رامنځ ته کړی چې اوسنی خواشینوونکی وضع ته پای ورکړی او په وطن کښې د ډیموکراسی اصل پرنسیبونه پیاده کړی ترهغی چې د ډیموکراسی لپاره کاروونه شی ترڅو چې د سولی لپاره اقدام ونه شی د وطن بدبختی به په همدی شدت دوام ولری



خان عبدالغفار خان او خان عبدالصمد خان اڅکزی.

> چې عظمت ته ئې داغیارو سترګی بریښی
> هرسری دی باچاخان غوندی بدنام شی

# نوې زیری

## خبریال هدایت ینګښ

**کلن** : د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند د مشرانو جرګې پریکړه کړې ده چې هر کال به د نومبر د میاشتې د ولسمه (۱۲) نیټه د پښتنو د یووالي د ورځې په نوم په مختلفو ښارونو کښې لمانځې د لمانځلو بنسټ به یوې خاصې جرګې له خوا ټاکل کیږي د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند د ۱۹۹۳ عیسوي کال د نومبر د میاشتې ۱۲ نیټه چې د یورنړ د تش په نامه کرښې سل کاله پوره شوي وو . په جرمنی کښې د ویسلینګ په ښارکښې په شاندارو مراسمو سره ولمانځله .

دغه کرښه د لومړي سرڅخه د هیڅ پښتون له خوا نده منل شوي خو بیا هم د هغې د سل کاله پوره کیدو له امله د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند داغوره وګڼله چې دغه نیټه د یورنړ د لوظنامې د باطلیدو او د ټولو پښتنو د یووالي د ورځې په نامه ونوموي .

په دغه غونډه کښې د هیواد ملي او سیاسي شخصیتونو سره سره په جرمني کښې د انګلستان د سفارت د سیاسي چارو مشر کارناروز او د ایس پي ډي د ویسلینګ مشر اوتو کلوس او ګڼ شمیر نورو بهرنیو میلمنو برخه اخستې

وه د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند لخوا سږ کال د پښتنو د یووالي ورځ (۱۲ نومبر ۱۹۹٤) د کلن په ښارکښې لمانځل کیږي .

پښتو به وایو پښتو به لولو
پښتو به لیکو



ستا په اننګو کښې د حمزه د وینو سره دي
ته شوې د پښتو غزله ځوان زه دې بابا کړم

**خیبر**: د پښتونخوا نامتو لیکوال شاعر او فیلسوف حمزه شینواري د ۱۹۹٤ عیسوي کال د فرورۍ د میاشتې په ۱۸ نیټه د دې فاني دونیا څخه سترګې پټې کړې او په خپل بیلتون سره ئې بې شمیره زړونه وداغل .



د ده مړی د فرورۍ د میاشتې په ۱۹ نیټه په خیبر کښې د ده په پلرني هدیره کښې په داسې حال کښې چې زیات شمیر مینه والو عقیدت مندانو د پښتونخوا قومي او سیاسي مشرانو شاعرانو او ادیبانو په کښې ګډون کړی وو خاورو ته وسپارل شو .

حمزه شینواري په ۱۹۰۷ عیسوي کال کښې په لوارګي کښې زیږیدلی او تر لسم ټولګي پورې ئې زده کړه کړیده دی په پښتو شعر او ادب کښې د ځانته ښوونځي خاوند دی د رحمان بابا څخه وروسته ئې د تصوف په پاچاهي کښې ملي و زمي خورې کړې دي . او د پښتو ادب او شعر ته ئې ژوند ور بخلی دی .

حمزه شینواري د پښتو د غزل بابا ګڼل کیږي د ده د وینو سرخي د پښتو غزل ته د ځواني جوش او مستي ورکړې ده مونږ ته ئې میراث پریښود لی دی .

د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند د حمزه بابا مړینه د پښتون



اولس لپاره ستر اونه هیریدونکې تاوان بولي او د ارواښاد حمزه شینواري بابا کورنۍ او دوستانو ته د درد تسلیت ورکوي او په دغه درد کښې و رسره ځان شریک ګڼي .

**کابل**: په خواشینۍ سره خبر را رسیدلی دی چې ملي مشر د روند پښتون ښاغلي علي احمد پوپل د کابل په ٤ کارته کښې د ناروغۍ په حال کښې دی . علي احمد پوپل د قام او وطن د ابادۍ او سوکالۍ په لاره کښې نه هیریدونکې خدمتونه کړي دي . د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند پتمن مشر علي احمد پوپل ته د ښې روغتیا او اوږد ژوند هیله لري .

**بن** : د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند د سپتمبر د میاشتې په ۲٤ مه نیټه په افغانستان کښې د سولې او اولسولۍ د سرلیک لاندې پوورځنی ازاد پوهنیز سمینار جوړوي ی سمینار ته د هیواد د باندې پوهاندان ، سیاسي او ملي سریتوبونه او د مختلفو د لونماینده ګان رابلل شوي دي سیمنار د کلن په ښارکښې جوړیږي او د غرمې د دري بجو څخه تر نهو بجو پورې د وام لري .

**کلن**: د پښتنو کلتوري ټولنې د هیواد نامتو هنرمندان منګل ، نغمه او میراوس رابللي دي . د پښتنو د کلتوري ټولنې مشر محمد شیرین ګرد یوال وویل چې دغه هنرمندان به د جرمني په مختلفو ښارونو کښې کنسرتونه ورکړي .

کور کښې د ښایسته ووینځو لوبه ګله پیایې
ماته د هغې د نیا جنت کښې حورې ښایې
قول ته به ګوره که عمل ته پاکو خلکو
دې خویوځه ښایې بل څه کړې او بل څه وائي

اجمل خټک



Pashtoons Social Democratic Party (PSDP)
Postfach 101526
5000 Köln 1
West Germany

Germany-Köln, den 6.8.1994

### مطبوعاتي اعلامیه

د روسانو د پوځونو وروسته افغان اولس د سولې تینګښت او د دیموکراتیکې ازادۍ هیله لرله ، د ملګرو ملتونو د سولې پلان څخه د جمهور رئیس نجیب الله په مقابل کښې د کارمل د لې د کودتا په واسطه ونیول شوه او بیښور کښې د مجاهدینو جوړ شوی حکومت په کابل کښې په قدرت راوستل شوی دوی په ټول هیواد کښې اسلامي شورا ګانې جوړې کړې د حکومت په دننه کښې د ځواک د مبارزې او تضادونو سره سره د مجاهدینو ټولو د لود دیموکرات ځواک . ټولو ته لاس یو کړی دی . د دیموکراتانو نماینده ګان د ګواښ لښد ی نفس او بیائې وژني ، هیواد ئې کنډواله ګرزولی ، کلتوري ارزښتونه ئې د منځه وړي ، په زرګونو کسان بې کوره او تېښتې ته مجبور کړي شوي دي ، چې د غه سلسله نوره هم روانه ده په دې لړکښې د روان کال د جولای د میاشتې په (۲۵) پنځه ویشتمه نیټه د بنسټپال ربانی رژیم په هرات کښې یوه غونډه جوړه کړه د غې غونډې ته ئې د بهر څخه خپل پلویان هم بلمانه کړي وو د دغې غونډې هدف دادی چې د رباني د رژیم عمر اوږد شي او د بهرمرسته د هیواد د بیا ابادولو په نوم تر لاسه شي په غونډه کښې د وه متضادې پریکړې وشوې یوه د سل زرو عسکرو داردو (پوځ) جوړونه او بله د لویې جرګې راغوښتنه ده . د اردو جوړونه د جګړې د تود ید و سبب ګرځي او د لویې جرګې د جوړولو په غرض سره د خلکو په سترګو کښې شګې شیندل کیږي ، ځکه چې رباني د لویې جرګې د مخالف په توګه هرچاته معلوم دی . د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند په دې عقیده دی چې د ملایانو د حکومت دوسه داپوره نه ده چې په افغانستان کښې بیرته ارامي راولي . د افغانستان رهبره په پوځي وسائلو سره نه بلکه یوازې د خبرو اترو او د لویې جرګې د لارې حل کیدای شي لویه جرګه د افغانانو ضمنه ده چې د ټولو ګوندونو او سیاسي تنظیمونو نماینده ګان ، قومي مشران ، ټولنیز او روحاني شخصیتونه پکې د خلکو په خوښه ګډون کوي ، او داسې نه وي چې یوازې د یوه او بل ارخ نماینده ګان پکښې راټول شوي وي . د پښتنو ټولنیزا ولسولیز ګوند په افغانستان کښې د بهرنۍ ګوتې وهنې پای ته رسونې غوښتنه کوي هیله لري چې د ملګرو ملتونو موسسه په افغانستان کښې د سولې لپاره خپلې هڅې ښتلې کړي او د پوځي ، ډېر ګوندیزې پارلماني د یموکراسي لپاره شرایط برابر شي .

Ahmad Sheh Amin
Neusser Str. 99
41056 Mönchengladbach
GERMANY.
Tel:02236/83463

ذمه وار : احمد شاه امین

خبرونکی : د پښتنو ټولنیزا ولسولیزګوند د خبروني د جرګې پریس سکرتري عزیز رحمان سرشار

# مشر او لارښود

## ډوکتور دروېزه اڅکزی

د یو ملي مشر د مشرتوب لومړی شرط د هغه سپین ویښتان نه دی بلکې د یو مشر د مشرتوب شرطونه په لاندې ډول دي

۱ پښتونواله.
۲ په ملي او بین المللي ساحه کښې معلومات او د هغوی سره د اسې سیاست غوره کول کوم چې د افغانستان اولس په ګټه وي.
۳ د خپلو ګټو څخه و ملي ګټو ته اهمیت ورکول.
۴ د خپلې کړنلارې د تاکلو په وخت کښې د نورو مشرانو خبرو ته غوږ نیول او په ګډه پریکړه کول.
۵ د شپانه، بزګر، او هم د ارنګه د عالمانو سره د هغوی په ژبه ګړېدل.

دا یو حقیقت دی یو سړی چې سپین ږیری کیږي د خپل ژوند د تیرېدو په اوږدو کښې ځنې تجربې کوي او دا هم ریښتیا ده چې د علم بنسټ تجربه ده. خو لکه څنګه چې یو عالم وائي چې د یو انسان فکر او پوهه د هغه د شا وخوا محصول دی یعنی دا چې یو څوک که سپین ږیری هم وي او د مشا وخوا د پیریو پیریو څخه را پدې خرا پریوه خیال وي نو د اسې څوک سره د دې چې ویښتان ئې سپین هم وي مګر د ې نشي کولای چې د ملي او بین المللي چار واړیکي ووینې او تجزیه ئې کړي او بیا د اسې سیاست غوره کړي کوم چې د افغان اولس په ګټه وي.

ننی نړی د اتوم او کمپیوټر نړۍ ده او دا دواړه خدای ج او د هغې مخلوق پیدا کړی دی، د نړۍ پر هیواد و نن د اتومي تود وخې او قوې څخه ګټه اخلي څوک بمونه یعنی جنګي الې ور څخه جوړوي چې خپل هیواد د پر د یو د تیري څخه وساتي، او څوک ئې د تودوخې او بریښنا د تولید ولو لپاره استعمالوي. دا دواړه د انسان د فکر محصول دی او د ې فکر پیدا کونکی خدای (ج) دی



د یو مسلمان او د یو ه کافر د مغزو جوړښت یو ډول دی مګر چا ماغزه په کار اچولي دي او چا هیڅ کار ځنې نه دی اخستی موټر او الوتکه هر سړی چلولی شي خو ځینو خپل ماغزه میوازې د موټر یا الوتکې د چلولو لپاره په کار اچولي دي او ځینو نه یوازې چلول بلکې د موټر او الوتکې د جوړولو هڅه ئې کړېده او خدای پاک بریالی کړی دی. ماغزه د واړو یو ډول دي کوم طبعي توپیر نلري که چیرې خدای پاک زمونږ ماغزه تر کفارو بیکاره پیدا کړي وای نو مونږ به موټر هم نه شو چلولی. نو یو ملي مشر او لارښود باید چې خپله خاوره او خلک د پر د یو د تیري او حکم څخه وژغوري دا ژغورنه اسانه کار نه دی، ځکه چې دا ژغورنه په علم پوهالی او کار سره کیږي چې دا د ریواړه په مونږ کښې نه دی روزل شوي، نه یوازې دا چې نه دی روزل شوي بلکې د دې د ریواړو مخه په شعوري ډول سر ضیول شویده د دې علت دا دی چې د یوی خوا زمونږ مشران (واکمن) ملي مشران نه وو. ځکه د وی یوازې د ځان او پرد ولپاره کار کاوه د پاره د دې چې د ځان (شخصي) او پر د و ګټې وساتي نو دوی به خلک پوهی (علم) پوهالی او کار څخه لیری ساتل او بل دا چې ځنې نا پوهه دیني لارښوونکي د خدای ج د امر او غوښتنې پر ضد د پوهې او تخنیک مخنیوی کاوه او دا جاهلان تراوسه پورې دا تبلیغ کوي چې حکمت (ساینس او تخنیکي پوهه) د کفارو کار دی ایا دا خلک د خدای (ج) څخه هیڅ ډار نلري؟

که چیرې د د اسې دیني لارښود څخه خدای پاک پوښتنه وکړي چې ما خو تا سو ته هم ماغزه درکړی دي تا سو ولې په کار وانه چول تاسو هغه هغه نعمتونو او خزانو څخه چې ما ستاسې د پاره په مځکه او بو او هوا کښې پیدا کړي وو د خپل ځان او اسلام د ساتلو لپاره ګټه وانه خسته نو دوی به خدای پاک ته څه جواب ورکوي. د اسې دیني لارښوونکي هم د خُدای (ج) او هم د هغه د مخلوق په مقابل کښې ګناهګار او مسئول دی.

که چیرې مونږ علم زده او کاروکړو نو مونږ د موټر، الوتکې، کارخانو او نورو شیانو خاوندان کیږو او نه یوازې دا چې د دې شیانو خاوندان کیږو بلکې پر دې مونږ خپل هیواد د نورو هیواد و سرمانسی ول او د پر د یو د تیري څخه



ساتلای شو. خپلو مریضانو ته به خپله د وا ورکوو او د اسې نور ...
خدای (ج) د هغه چا سر مرسته کوي چې د هغه کلکه اراده په مرسته لاړ حرکت، د لوږې، تندې، او نورو کړاونو مخنیوی کوي نه د هغه چا سره چې هغه کړا رناست وي او هیڅ حرکت نه کوي. که چیرې مونږ علم او تخنیک زده کړو او په ګډه سره مو کاروکړو نو هغه وخت به د خدای په مرسته مونږ ځان د پر د یو د اړتیا او لوږې تندې او نورو کړاونو څخه وساتو ځکه چې په حرکت کښې برکت دی. نو پدې ډول علم او حکمت (تخنیک) یو بل پورې تړلي دي هغه څوک چې د علم خاوند دی هغه د حکمت خاوند هم دی که چیرې مونږ د علم تخنیک او پوهالی خاوندان وای نو پر افغانستان به هیڅکله روسانو انګریزانو، امریکایانو او نورو یرغلګرو تیری نه وای کړی.
نو یو ریښتیني مشر او لارښود هیڅکله د علم او تخنیک مخنیوی نه کوي ځکه هغه د علم او تخنیک (حکمت) په اهمیت پوهیږي.

### پخوانۍ مینه

پلوشه چې پرې د فکر را خوره شوه
د پښتو لیلا می لا پسې ښایسته شوه
سنګولو څه اُتر را باندې وکړه
پخوانۍ مینه می ځوانه شوه توده شوه
.ستورې"



عزیز الرحمٰن "سرشار"

### د مینې رقیب ته

ژبه دې ګونګې شه په بیا بیا خبرې مه کوه
بس دی ای رقیبه د اشنا خبرې مه کوه
زړه کښې می موسکی شوه د مودو ارزو
خاندمه مستیږمه د زړا خبرې مه کوه
وشکیده زنځیر د ستم ماتې زولنې شولې
ستا دې په نصیب وي د شړنګا خبرې مه کوه
بیا د ننګ مورچل کښې پښتانه وینمه
کوزبه دې په مرغ کړې د رپا خبرې مه کوه
نن می د غیرت د ازمایښت دی وخت
ماته بې هوده د سرسودا خبرې مه کوه
غیږ ته می راغلو پخوانی محبوب
زاړه می ترې زړګی شه د جفا خبرې مه کوه
ژوند کښې شوګیرونه د وصال غواړم
خیال ته می په لمسه د سبا خبرې مه کوه
عزیز د پښتو مینه کښې په جار میدان ته تللی دی
پټ ورته په غوږ د پښتونخوا خبرې مه کوه

| | |
|---|---|
| پیغلې خوشته خولیلا نه شته پکې | لیونی مینه وفا نشته پکې |
| څه که شراب په لپولپو وڅکم | د غم علاج او شفا نشته پکې |
| څه که سیاست که محبت دی زمونږ | سوچه د روغ دی ریښتیا نشته پکې |
| د زندګی کتاب می لټ پلټ کړ | د ژوند مقصد مدعا نشته پکې |
| که د ومین په مینه ژوند تیروی | زما په خیال څه ګناه نشته پکې |
| د ژوندانه محفل می سوړ غونډی دی | انسانیت او خندا نشته پکې |

امان الله عاجز

محمدالله اجان "یار"

# غزل

د زړګي مینه می شوه مړه په سوارو پریوته
مینه می ګلو سره کوله په اغزو پریوته
خلکه زما د زړه په مینه باندی اور ولګید
د ژوند لیلا می هم ویده په اسویلو پریوته
دا خوګـنا مده چی د چا په مینه لوبی وشی
یاغی خولګی خود هغی په شونډ وسرو پریوته
د نظربازو په لمسون راځنی وتریده
ارزومی یوره طوفانونو په میرو پریوته
د وینو رود کښی زما هیلی خوپه سیند لا ډوبی
ناوی د ژوند می تل نسکوره په سلګو پریوته
محفلی را محفلی په سینه دی نن د وختلیونیان
ځکه د یار ورسره ګلکه د مود وپریوته

د چالوبی د چا کار د چا ثواب شی
د ګیانه ورته جوړ شکلی ګلاب شی
یومثال د موړاوړ ک می د رته وویو
په رموزباندی چی پوه خو له د جواب شی
بل مثال د زمزمو اوشورو زوږ دی
موسیقی پتار خوره چی د رباب شی
افرید یه د یرفکرونه ورته مه کړه
ګني نورترینه به جوړ د رته عذاب شی

(عبدالطیف افریدی)



ډګروال غلام قادر "یار"

# اولس وژنه که اولس پالنه



د افغانستان خلکو د تاریخ په اوږدو کښی په همیشنی توګه
د خارجی قوتونو په زور راغلی حکومتونه ندی منلی او یو په بل
پسی نسکور کړی دی مګر افغان اولس د بی شمیره اوبی مثاله
قربانیو د ورکولو وروسته بیا هم بالاخره
د حکومتکولو د غسی نا قبولها زمویل
شوی شکلونه د افغانستان په خلکو
تحمیل کیږی خو افغانانو او
نړیوالو تقریباً د زیاتی مودی را
هیسی ولید ل چی بنیاد ګرملایان
په خپلو کښی ګډه سیاسی مفکوره
او بنستونه لری اما د بنستپالنی
د اصولو د زورتمثیل او تحمیل په
غرض هریو د خپلو خارجی حامیانو د ګټو د خوندی ساتلو په خاطر
د افغانستان د بی ګناه ملت د وینو د تویولو په بدل د خپل عمر د
اوږدولو لپاره کله په یوه او کله هم په بل شکل کوښښونو ته دوام ور
کوی مګر افغان اولس د دغه فردی قدرتطلبی په اورکښی ان تر هډ وکو
پوری وسوځید چی د پخوا په نسبت ئی تولسه د ونیا په له ایزه وژنی
بی کوری او ارمګی او همدا جرئت د ناوړوا شکالو د زغم شاهده ده.
مونږ په دی باوریو چی د بنیاد ګروملا یانو د بل هر ډول نوی شکل حکومت
په را منځ ته کیدو سره به په راتلونکی کښی هم د دوی تر منځ یوه داسی
پخلاینه را منځ ته نه شی کوم چی په افغانستان کښی د یوه ملی او
اولسی حکومت د جوړیدلو اود سولی او امن د ټینګولو لاره برابره کړی.
افغان اولس د نړی تولو اولسیزو او سوله غوښتونکو قوتونو او د
افغانستان په مسئله کښی د شاملو غرضی خواو اړونده خلکو
او حکومتونو ته داخرګنده کړی چی په افغانستان کښی د



بنستپالی په سیستم د ډیکتاتوری د تحمیل د لاری د حکومت
او دولت داری دغسی ډولونه نه منی. افغان اولس ته
دا جوته ده چی د بنیاد ګروملا یانو حکومت د دی توان او قدرت
نلری چی د وی د ی د خپل واقعی تغا هم او یا کومی علمی برنامی
د تحقیق په اساس د ډیموکراتیکو معیارونو له مخی په افغانستان
کښی ارامی راولی او یا دی د قانونی معیارونو په بنسټ حکومتکولو
ته د افغانستان د اولس ملګرتیا د واموږ کړی.
داخرګنده ده چی د افغانستان لانجه د پوځی لاری ځنی نه بلکه
د مختلفو قشرونو د مشرانو پوهانو او ډیموکراتانو د تغا هم او د افغان
اولس د ملی عنعنی یعنی لوی جرګی له لاری ګیدای شی سوله را منځ ته
شی. نوکه چیری همدغه د ملګرو ملتو موسسه د خپل
پلان له مخی د باندینو لاس وهونکو غرضی ملکونو لا سو هنی
پای ته ورسوی او د ملا یانو د مختلفو تنظیمونو څخه د وسلو
د راټولو لو امکانات برابر کړی د ازادو او ډیموکراتیکو
انتخاباتو لپاره لاره اواره او ملی مشروب وتیا کل
شی د دغی لاری د تعقیب له مخی به بالاخره
د ډیر ګوندیزی پارلمانی ډیموکراسۍ د پاره شرا
برابر شی قانون او قانونیت به حکومت وکړی او
ډیکتاتوری زورول او وژل به خپل ځای اولس
پالنی ته پریږدی.

ستوری ته اسمان کښی یوه ورځ وویل هلال
خدای ادم ته مینه ورکړه مونږ له تش جمال
زه به خندا ورکړم دا خپل ښیست د کمال
ماله کمیو څاڅکی مینه راکړی څوک په سوال
مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده
حسن له زوال شته مینه نه لری زوال

غني خان



عبدالنصیر "ستوری"

# د پښتنو یووالی د دښمن ماتی



که د افغانستان تیر تاریخ ته نظر وکړونو
افغانستان د د اسی سرتیرو قومونو هیواد
دی چی تل ئی د پردیو د تیری په مخ سینه
ډال کړی او د خپلی توری په زور ئی هر ډول
استعمار په شاه تنبولی دی د ګډ وقومونو
او ملتونو په د غه ګډ کورکښی د پښتنو شمیره
تر ټولو زیاته ده او په دونیا کښی هم دا قانون
دی چی څو ښا اکثریت وی نود اولس رای به
اخلی او د قدرت واګی به په لاس کښی نیسی نودا چی د هیواد زیات
نفوس پښتانه او زیاتره برخه ئی په پښتنوا باده ده او د پیریو راهسی ئی په
افغانستان کښی حکومت کړیدی. دا یو څرګند حقیقت دی چی
د پښتون قوم څښته ئی د اسلام او پښتو څخه یو
ځای اخښکدلی ده او ځانته خصوصیات لری
چی هغه عبارت د ننګ، غیرت، میرانه، توره، پخه
عقیده، میلمه پالنه، دوستی او دښمنی او داسی
نورو څخه دی. د افغانستان د پنځلس کلن جهاد
په اوږدو کښی غلیمانو او د ښمنانو رنګارنګ د سیسی
فریبونه پلمی او چلونه جوړ کړل د پښتون قوم

په مفزو کښې ئی داسې پیچکاری ووهلی چې یو ئی
د بل دښمن کړ یو ئی په بل و څپول د خپل
منځی جګړو او بې اتفاقیو سره سره ئی د روس د کمونست
رژیم په مقابل کښې جهاد ته دوام ورکړ بې حسابه
قربانی ئی ورکړه پری ستونزی ئی وګاللی او د
کمونستانو د ظلم او ناتار په مقابل کښې ئی
دهر چا ښځه لومړی خپل بیرغ جګ او سنګر
نیولی دی چه په نتیخه کښې ښکیلاګر سور
لښکر ته خوله ماتونکی ځواب ورکړی او شرمیدلی
ئی په تیښته روس ته ولیږل. جنګ پښتنو وکړ
مالی ځانی او پوهنیزه (علمی) قربانی پښتنو
ورکړی خو ګټه تری دښمن پورته کړه.
دښمنانو د پښتنو د اختلاف او څپلو پسی
را اخستی ده ځکه د پښتون قوم تیر تاریخ دا
ثابته کړی ده چې ددی غیور قوم سره هیڅوک
د غره نه شی وهلی که وهی نو مات ګوډ
به شرمیدلی د میدان ښخه تښتی په همدی
اساس غلیمانو یو د بل سره ائتلاف وکړ او د
افغانستان د ازادی په مخ کښې خنډ شول د
افغانی او اسلامی قانون او دستور خلاف ئی په
کرسی خیته واچوله د پښتنو د بې اتفاقیو
ښخه ئی ګټه واخسته او د هیواد په بې وزله



او مظلوم ولس ئی ناتار، ظلم او دهشت شروع کړی
دی نو دد ښمنانو او غلیمانو د ناتار او ظلم د مخ
نیوی په خاطر د پښتون ولس یووالی ته ضرورت
دی که یووالی مو په برخه شو نو په ګران هیواد
به د سولی لمر راوخیژی د پښتنو د ښمنانو
د ظلمونو او تیریو مخه به ونیول شی د ازادو تاکو
او ګڼ ګوند یز حکومت لپاره به لار هواره شی
لویه جرګه به جوړه شی او د لوی جرګی د
لاری به یو مشر وټاکل شی، او د هیواد په بیا
رغونه به پیل وشی د پردیو له خوا تپل شوی
مشرانو او واکدارانو ښخه به نجات ومومو
او په ازاده فضا کښې به په داړه زړه ژوند
وکړو او که یووالی مو ونه کړ او اتفاق مو ونه
کړ نو خدای ؟ مه کړه د نوری بربادی سره
به مخامخ شو. نو د خپل منځی، تنظیمی
او غیر تنظیمی او وطنی اختلافاتو ختمول
د وخت اهم ضرورت دی او د پښتنو
یووالی او د دښمن ماتی یقینی ده.

ستا د عشق له وینو ډک شول ځیګرونه
ستا په لاره کې بايلي ځلمي سرونه
ستا له راشمه زړګي زما فارغ شي
بې لتا مې اندېښني د زړه مارونه
د ډیلي تخت هیر ومه چې را یاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
لوی احمد شاه بابا



## د پښتنی تاریخ ویاړ



احمد شاه بابا



فخر افغان باچا خان



خوشحال خان بابا

چې بې ننګ او بې پښتو وی پښتون ندی
چې د قوم په شرمیدو وی پښتون ندی
پښتون هغه دی چې غم د تمام قوم خوری
چې د ځان په جګید و وی پښتون ندی
د پښتون نظر مدام په ننګ و نام وی
چې نظر ئی په پیسو وی پښتون ندی
پښتون هر کله طالب د خپل شرف وی
چې طالب د سپینو سرو وی پښتون ندی
پښتون تل په خپله ژبه تینګ ولاړ وی
چې په دروغ ئی ګفتګو وی پښتون ندی
پښتون نه شی باداری د چا منلی
چې اختیار ئی د پردو وی پښتون ندی
چې نصیب د ملنګ جان دغه مسرې شوی
چې خفه پدی مسرو وی پښتون ندی

ملی شاعر ملنګ جان




که سپوره وی که پوره وی په شریکه به وی
(باچاخان)

*Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt*
*(Batscha chan)*

*Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)*